# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

## AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| مسایل ایدیولوژیک | Ideological |
|---|---|



درویش وردک

۱۷ جنوری ۲۰۱۶

# شپږم مجلس(مؤمن ورورته پند)

بزرګوارشیخ عبدالقادرقدس سره دجمعی په ورځ د ۵۴۵ هجری کال دشوال په نیمایی کی په مدرسه کی داسی وفرمایل: دخدای ددوستانو زړونه پاک اوصفا اودخدای یاد ته ځیراودخلکو څخه لیری دی، دنیایی هیره کړی اوتل دآخرت په فکرکی دی. هغه څه چی ددنیا دمال څخه لری ترسترګو یی بی ارزښته اودهیریدو دی، اوهغه څه چی دخدای تبارک وتعالی سره دی هغه ته ځیردی. ولی تاسو دغافلانو ډلګی له هغوی لیری یاست اوددوی دکړووړو څخه غافل یاست، ددنیا مال ټولوله آخرته غافل کړی یاست. له خدایه شرم نه رعایت کوی، بلکه په بی شرمی خپل غفلت ته ادامه ورکوی.

راشه دخپل مهربانه ورور نصیحت ومنه اومخالفت مه ورسره کوه، ځکه زه ستا دزیان اوګټوپه هکله څه وینم چی ته یی نه وینی، له دی امله رسول اکرم(صلی الله علیه وسلم) فرمایی: (اَلْمُؤمِنُ مِرْآةُ الْمُوٴ مِنِ)-«مومن دمومن هنداره ده». صادق اوریښتینی مومن په خپلو نصیحتونو کی داسی څه خپل مومن ورورته وربه ګوته کوی چی دی ورڅخه بی خبره دی. دی له ګناهونو راګرزوی اوحسنه عمل اونیکیو ته یی رابولی. اوهغه څه چی یی په سود اوزیان وی ورته بیانوی.

له خدیه مننډوی یم چی زه یی دخلکو پند اواندرز ته مامورکړی یم اوزړه ته می یی دا الهام کړی اودایی زما ترټولو مهمه دنده ګرځولی ده.

ای دمریدانواودوستانو ډلی! زه ستاسو ناصح یم، اودهغی په بدل کی هیڅ مزدوری اوپاداش نه غواړم، بلکه ثواب یی زما دڅښتن سره په آخرت کی ثابت دی. زه ددنیا بنده اوغوښتونکی نه یم، اوآخرت ته هم سرنه ټیټوم، ځکه له لقاء الله پرته هیڅ شی زما په نظرکی ارزښت نلری. دیوه خدای اوقدیم خالق نه پرته دبل چا بنده نه یم. زما خوښی ستاسو په خلاصون اورستګاری کی اوغم اواندوه می ستاسو په هلاکت کی ده. هرکله چی دیوه مرید چی زما په لاسونو یی خلاصون موندلی، مخ وینم نوخوښ شم اودالهی شکرانی دزلال چینی نه مړیږم، چی دابنده داسی زما په لاسو مقصود ته رسیدلی.

(ای غلامه) زما مراد اومقصود ته یی نه زه، غواړم تا دصلاح پرلوری رهنمائی کړم. ولی ته یوازی دخپلو ګټولپاره زماسره مینه کوی، ژرماته راشه ترڅوزر دغفلت له پله نه تیراوپه سمه لاره برابرشی..

(ای قومه) دخلق اوخالق پروړاندی تکبر له سره وباسه. خپل ارزښت وپیژنی اوپه خپل نفس کی فروتن اومتواضح اوسی. څکه که نیک وګوری اول یوه مرداره نطفه وی له مرداروابو اوپه آخرکی به هم بوی ناکه جسدپه خاورو کی پروت،دهغو له ډلی مه اوسی چی ددنیا مال یی پښی تړلی اودنفس هوا ښکارکړی دی. اودوی دسلاطینو اواومراو دربارونو ته په هغه څه چی نصیب یی ندی سرګردان کړی، یا دمقسومی روزی په لټون کی یی ځانونه خواراوتیت کړی.

رسول اکرم(صلی الله علیه وسلم) فرمایی: (اَشَدُّ عُقُوبَاتِ اللهِ عَزَّوَجَلَّ لِعَبْدِهِ طَلَبُهُ مَا لَم یُقْسِمْ لَهُ)-« بنده ته دخدای دسختوعذابونو څخه یودادی چی دی د داسی شی په لټه کی وی چی نصیب یی نه وی».

حیرانی ده! وای پرتا! ای په الهی قضا اوقدرنادانه، آیا فکرکوی چی که ددنیا ټول خلک سره متفق شی او هغه شی چی خدای نه وی درکړی؟ دربه یی کړی.؟ دادنفس وسوسه ده چی ستا په رګوکی نغښتی ده. پدی حال کی ته دخدای بنده نه یی ، بلکه دنفس اوشهواتواودرهم اودیناربنده یی. زیاروباسه چی رستګاری ته ورسیږی،ښایی چی وژغورل شی.

یوه له بزرګانوڅخه داسی فرمایلی: هرڅوک چی دمصلح سره مصاحبت ته ونه رسید، نه ژغورل کیږی. ته مصلح اومفلح وینی ولی نه دباطن په سترګو بلکه دظاهرپه سترګو، اوڅرنګه چی دایمان څخه پوره برخه نلری نو هغه په ټولیزه توګه نه درک کوی، څکه پرته له ځانه بل څوک نه وینی. متعال خدای په دی هکله فرمایی: (فَاِنَّها لا تَعْمَی الْاَبْصارَ وَلاکِنَ تَعْمی الْقُلُوبُ الَّتِی فی الصُّدُورِ)-« دظاهرسترګی ړندی ندی، بلکه زړونه چی په سینوکی دی بصارت اولید نلری.سوره حج آیه۴۶-).

څوک چی دطمع سترګی دنورو لاسونو ته لری خپل دین یی په یوه انجیرپلورلی دی، هغه څه چی پایداردی په ناپایداره شی بدل کړی، یعنی دنیا یی دآخرت پرځای قبوله کړی. اوبالاخره نه دالری اونه هغه، نه له دنیا ګټه اخلی اونه له آخرته.

ترڅوچی دکامل ایمان څښتن نه یی، اودتوکل مرحلی ته نه یی رسیدلی، دڅوندانه له کاراوبارڅخه لاس مه اخله، ترڅونورو ته اړنشی، چی مجبوربه شی دین دی په دنیا وپلوری، او هرکله که دتوکل اوکامل ایمان مرحلی ته ورسیدی، هغه وخت به ټول اسباب اووسایل درته بی ارزښته شی، اوزړه به دی له کورکلی ، زن اوفرزند اوشهرت څخه بیزاره شی اوهغه څه چی په لاس کی لری ښځی، اولاد ورونو اودوستانو ته خوشی کړی، اوله داسی حال سره به مخ شی چی تصوربه کوی دمرګ فرشتی قبض روح کړی یی، اویا یوه ښکاری مارغه ستا مرګ تښتولی، اویاداچی ځمکه چاودلی اوته یی تیرکړی یی. اویا داچی دقضا اوقدرسپاهاینو تښتولی یی اودفنا په دریاب کی یی غرق کړی یی. هرڅوک چی دی مقام ته ورسید نوهیڅ شی ورته زیان نشی رسولی، اوظاهری اسباب اووسایل ددوی په باطن هیڅ اثرنلری اودټولو پروړاندی بی اعتنا دی.

(ای قومه) که چیری ددینوی تعلقاتوڅخه چی یادون می وکړ، په ټولیزه توګه نشی لیری کیدای، نودخپل وس سره دزړه ترون وربانذی کم کړی. رسول اکرم(صلی الله علیه وسلم) فرمایی: (تَفرَغُواَ مِنْ هُمُومِ الدُّنْیا مَااسْتَطَعْتُم)-« دخپل توان په اندازه له دنیوی علایقوڅخه ځانونه فارغ کړی.).

(ای غلامه) که کولای شی ددنیا له غمونو ځان فارغ کړی نوهمدااوس پیل وکړه. په بیړه دخدای عزّوجلّ خواته منډه ووهه اولاسونه دی دده درحمت په لمن کی واچوه، ترڅودی ددنیوی اندیښنو څخه په امن کړی. څکه هغه په هرکارلاس بری اوپه هرڅه خبره دی، ټول امورات دده دقدرت په لاسونو کی دی. دده د مقدسی درګاه ملازم اوسه اوله ده وغواړه چی کامل یقین درپه برخه کړی اوپه خپل انس اوقرب دی مفتخرکړی، اوټول غړی اوجوارح دی په

بندګی بوخت کړی، داټول نعمتونه له ده وغواړه نه له بل چا. دځان په ځیرمخلوق ته ځان مه ټیټوه، ټولی اړتیاوی دی یوازی له خدایه وغواړه.

(ای غلامه) یوازی ستاخبری په ژبه، له عمل اوقلبی خلوص پرته تا یوګام هم دخدای لوری ته نه بیایی. دخدای لورته حرکت یوازی دزړه په اخلاص پوری تړاولری. دخدای قرب دباطن نیړدی والی دی، باید باطن اواسرار دخدای په یادوی. درست عمل هغه دی چی دشریعت دحدودو په ساتلو اوپه ټولو غړو اویوازی دخدای درضا لپاره وی. هرڅوک چی دځان لپاره کوم مقام قایل شو، پوه دی شی چی بی مقامه دی. هرچاچی دخلکو دخاطرلپاره کوم کارترسره کړه، دصالح اونیک عمل درلودونکی ندی.

اعمال باید پټ ترسره شی، نه په ظاهراودخلکو دسترګوپروړاندی ددنیوی اعتباردلاس ته راوړولو لپاره. یوازی فرایض دی چی له اظهاره یی چاره نشته، ولی هغه هم باید دزړه په حضورچی خدای ته ځیروی اوپرته دده له رضا بل مقصد ونلری ترسره شی. ستا لټی ددین په کارکی درته ګټه نه رسوی. که ددمعنویت زیربنا سسته ده نودجبران په لټه کی شه. ځکه دهرعمل بنسټ توحید اواخلاص دی. پخه کلا هغه ده چی پرداسی بنسټ جوړه شوی وی. دخدای له توفیقاتونه په تکیه داعمالو په روغولو پیل وکړه، نه په ځآن په تکیه اوامید سره. ځکه دموحدینو اعمال یوازی قدراوارزښت لری، اودریاکارانو اومنافقانو اعمال ارزښت اوبیه نلری.

لویه خدایه په ټولو حالاتوکی موله نفاقه اوریا لیری وساتی(آمین)

**«وَ آتِنا فِی الدُّنْیا حَسَنَةً وَفِی الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنا عَذابَ النَّارِ».**